# أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟» ثَلَاثًا، قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ» وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَقَالَ: «أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ»، قَالَ: فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ. «آيا زه تاسو ته د تر ټولو لويو ګناهونو څخه خبر درنکړم»؟ درې ځلې (يې دا خبره تکرار کړه) هغوی وويل: هو (يعني خبر راکړه) اې د الله جل جلاله رسوله! وېې فرمايل: د الله سره شرک کول او د مور او پلار نافرماني» او کېناست، پداسې حال کې چې تکيه يې وهلې وه، نو وېې فرمايل: « خبردار اوسئ د دروغو د ګواه په اړه» (يعني ځان ترې وساتئ)،وايې: تر هغه پورې يې دا خبره تکراروله تر دې چې مونږ وويل: کاش چې چپ شوی وای.

[(صحيح)] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته د لويو ګناهونو په اړه خبر ورکوي، نو له دې دريو ګناهونو يادونه يې وکړه: 1. له الله جل جلاله سره شرک کول: او شرک له الله جل جلاله پرته بل چاته د هر ډول عبادت کول او د غير الله سره په الوهيت، ربوبيت، اسماء او صفاتو کې د الله جل جلاله برابرولو ته وايي. 2. د مور او پلار نا فرماني: دا د مور او پلار هر ډول ازارول دي، هغه که په وينا سره وي يا په کړنه، او د هغوی سره نيکي پرېښودل دي. 3. دروغ وينا، چې له جملې څخه يې د دروغو ګواهي ده، او د دروغو ګواهي له هغه دروغ وينا څخه عبارت ده چې موخه ترې د بل چا حق د پښو لاندې کول دي؛ چې يا يې مال واخيستل شي او يا يې په عزت، ناموس او داسې نورو تيری وشي. رسول الله صلى الله عليه وسلم په تکراري ډول له دروغ وينا څخه وېرول کړې تر څو يې بدوالي او په ټولنه کې ناوړه پايلو ته د خلکو پام راواړوي، تر دې چې د زيات تکرار له امله صحابه کرامو وويل چې کاش چپ شوی وای؛ پر هغه د ترحم له امله او د هغه کار د بدوالي له امله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم زوروي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee